بسم الله الرحمن الرحیم

{إِنْ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ}

## حکم یوازې الله تعالی لره دی

په 28/11/2021مه، قرغیزستان پارلماني ټاکنې وکړې. دا ځل د تېرو ځلونو سره په ټکر کې مختلط سیستم کارول شوی؛ رایه اچونه احزابو ته د هېواد په سطحه د تناسبي سیستم پر اساس ترسره کېږي، همدارنګه رایه ورکول ځانګړي کاندید ته په ځانګړې حوزه کې په اکثریت سیستم ورکول کېږي او هیواد به په ګڼو حوزو وویشل شي. کمپاین د نومبر تر 27مې دوام مومي.

یو مسلمان باید پر شرعي حکم ټینګ وي، د دې لپاره غواړو د قرغیزستان خلکو ته د پارلماني ټاکنو شرعي حکم روښانه کړو. د شرعي حکم پېژندلو لپاره دا اړینه ده چې د پارلماني ټاکنو واقعیت، د پارلماني استازو او پارلمان له کړنو، حقوقو او مسوولیتونو څخه وڅېړو او وروسته به یې شرعي حکم روښانه کړو.

د قرغیزستان اساسي قانون په ( 76 ماده، 80 ماده، 85 ماده) مادو کې روښانه کېږي، چې د پارلمان اساسي دندې: قانون جوړونه، تصویب، د قوانینو اصلاح او تفسیر ، لومړي وزیر، د هغه مرسیتالان او د وزیرانو پلاوي غړو ته د باور رایه ورکول، د نړیوالو تړونونو تصویب یا لغوه ، څارنه او حساب ورکونه... دغو کړنو ته په کتو ښکاري چې درې اولنۍ کړنې شرعاً روا نه دي، څلورمه کړنه؛ څارنه او حساب ورکونه، په شرعیت کې روا ده؛ که د شرعي احکامو پر اساس وي.

1 -په اسلام کې د قانون جوړولو صلاحیت یوازې الله سبحانه وتعالی لري او دا سمه نه ده چې یو مسلمان قانون جوړونکی شي، الله سبحانه وتعالی خالق دی. په شرعي حکم ځان پوهول او له بحث کولو پرته پرې عمل کول واجب دي. همدارنګه دا هم روا نه ده چې یو مسلمان دې شرعي احکام د ټاکنې او اختیار موضوع وګرځوي. الله سبحانه و تعالی فرمایلي:

**{وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالاً مُبِيناً}** [احزاب:36]

***ژباړه:*** *هېڅ یو مومن او هېڅ یوه مومنه دا حق نه لري چې کله الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم په یوې موضوع پریکړه وکړي او بیا (د الله سبحانه وتعالی او رسول صلی الله علیه وسلم د پریکړې پر*

*خلاف) هغه د خپلې موضوع د پریکړې واک ولري او څوک چې له الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له امر څخه سرغړاوی وکړي، هغه په څرګنده ګمراهی کې وغورځیدی.*

له اوسنیو واکونو سره، پارلمان لویدیځه مفکوره ده، چې سیکولرېزم (د ژوند او دولت څخه د دین بیلتون) څخه سرچینه اخلي، هغه ځای چې شتمن د پارلمان غړو په مرسته خلکو ته قانون جوړوي. دا له اسلام سره په ټکر کې ده، په اسلام کې قانون جوړونکی یوازې الله سبحانه وتعالی دی.

2 -حکومت ته د باور ورکول، لکه د کفري احکامو پلي کولو واک ورکول دي. حکومت په ډموکراتیکو نظامونو کې اساسي قانون او نور قوانین، چې د بشر په لاس جوړ شوي، نه د الله سبحانه وتعالی لخوا، پلي کوي. په دي کې شک نشته چې د کفري احکامو پلي کول په خلکو روا نه دي، ځکه الله سبحانه وتعالی امر کړی چې حکم کول به د شریعت پر اساس وي.

**{وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيراً مِنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ * أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ}**[المائده:۴۹-۵۰]

**ژباړه:** *او (تاته اې محمده امر کوو چې) د هغوی په منځ کې په هغه څه حکم وکړه چې الله په تا نازل کړي دي، او د هغوی له هیلو پیروي مه کوه، پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې ونه غورځوي، یوه ذره دې هم له هغه هدایت(قرآن) څخه و نه ګرځوي چې تا ته الله تعالی درلیږلی دی. که دوی(د الله له حکم څخه) مخ وګرځوی، پوه شه چې الله تعالی غواړي هغوی د کړو ګناهونو لپاره په بلا او مصیبت اخته کړي. بیشکه ډیری خلک له(شرعي احکامو) څخه سرغړونه کوي. (که دوی د الله تعالی له قانون څخه مخ اړوي) نو بیا د جاهلیت پریکړه غواړي؟ په داسې حال کې هغه خلک چې پر الله تعالی باور لري، د هغوی په نزد له الله تعالی څخه بل غوره پریکړه کوونکی نشته.*

هغه حکومت ته د باور ورکول حرام دي، چې له شریعت پرته په بل څه حکم کوي.

3 -د کنوانیسونونو او نړیوالو تړونونو تصویب په اړه، نړیوال تړونونه د اساسي قانون او نورو بشري قوانینو پر اساس رامنځ ته شوي، په همدي تړونونو کې له اسلامي قانون سره ښکاره مخالفت شته. ډیری وخت یې کفارو ته پر مسلمانانو لوړوالی ورکړی، چې دا په شریعت کې نشته، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

{**وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً**}[النسأ؛١٤١]

*__ژباړه:__ الله د کافرانو لپاره په مسلمانانو باندې د برلاسه کېدو هیڅ کومه لاره نده جوړه کړې.*

4 – د حکومت څارنه او ترې حساب غوښتل د شرعي احکامو پر اساس پر مسلمانانو واجب دي، له قرآن او سنتو څخه دا په ډاګه کېږي، چې څارنه او حساب غوښتل په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کې راځي. الترمذی په خپل سنن کې، چې حذيفه بن اليمان له رسول الله څخه نقل کړی:

«**وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَاباً مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلاَ يُسْتَجَابُ لَكُمْ**»

*__ژباړه:__ زما دې په هغه ذات قسم وي، چې زما ساه د هغه په لاس کې ده، یا به امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ، یا به ډېر ژر الله تعالی له خپل لوري پر تاسو عذاب راولي او کله چې پر الله تعالی غږ کوئ دعا به مو نه قبلیږي.*

ابو عیسی وایې: دا حدیث حسن دی. مګر له دولت څخه څارنه او ترې حساب غوښتل، د بشري قوانینو پر اساس جایز نه دي.

داسې ښکاري چې په پارلمان کې یوازینی جایز کار حساب ورکول دي، خو د شرعي اصولو پر اساس. نو که څوک غواړي چې ځان نوماند کړي، باید څو عوامل په نظر کې ونیسې، چې نوماندي یې له شرعیت سره په ټکر کې رانشي، په لنډ ډول لاندې دي:

**الف** – د بشري قوانینو ردول، د کفري نظامونو ردول او د کفر پلي کوونکي حکومت ته د اعتماد رایې څخه سرغړونه، خلکو ته په ښکاره ډول ووايي او څرګنده کړي چې د کفري سیستم پر ځای د اسلامي سیستم د تاسیس هڅه کوي، هغه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په تګلاره راشده خلافت دی او د ټاکنو په ګټلو سره عملاً پر ټولو ټینګ واوسي.

**ب** – خپل پروګرامونه له قران او سنتو څخه اخیستل او د بریا په صورت کې یې د پارلمان ماڼۍ د حقیقت ویلو او له دولت څخه حساب‌غوښتل، د اسلام پر اساس وګرځوي.

**ج –** په داسې یوې ډلې یا حزب کې غړیتوب چې له اسلام پرته پر بل څه عمل او دعوت ورته کوي. لکه نشنلیزم، سیکولر احزاب او داسې نور. که چیرې په کوم حزب کې غړی شو، د حزب پروګرام باید له قرآن او سنتو څخه اخیستل شوی وي او موخه یې د کفري نظامونو له منځه وړل او د اسلام تاسیس وي. حزبونو ته هغه وخت د نوماند کېدو جواز شته، چې اسلام ومني، د خلافت د تاسیس لپاره کار وکړي او کفري نظامونه له منځه یوسي او همدارنګه له هغو حزبونو سره ټاکنیز ائتلاف جایز نه دی، چې د اسلام پر اساس نه وي.

همدارنګه د پارلماني ټاکنو هغه نوماند ته رایه ورکول جواز نه لري، چې په یادو شرایطو عمل ونه کړي. ځکه رایه ورکول یو ډول استازولي ده او دا استازولي په حرامو کارونو کې روا نه ده. باید په حلالو کارونو کې وي، یوه کس یا سازمان ته رایه ورکول، چې د الله سبحانه وتعالی پر ځای قانون جوړونه کوي یا کفري احکام پلي کوي او یا له شرعیت سره په ټکر کې تړونونه تصویب کړي یا هم له دولت سره له اسلام پرته په بل څه حساب کتاب وکړي.

ځینې مسلمانان په پارلمان کې د نوماندېدو لپاره توجیهات راوړي، چې پارلمان ته په ننوتلو سره به د مسلمانانو ګټې خوندي کړي لکه، د مسجدونو او مکتبونو جوړول او د حجاب بندیز پر وړاندي درېدل... په پارلمان کې د مسلمانو غړو په ډېرېدو سره د اسلامي دولت تاسیس او نور... دوی هېره کړې چې د مسلمانانو دا ګټې له شرعیت سره په ټکر کې دي او که نه. دوی هېره کړې چې په ځینو اسلامي هېوادونو کې همداسې کسان وو، چې په پارلمان کې یې غړیتوب ترلاسه کړ، خو پایله یې په اسلام او مسلمانانو د بدبختیو راوستل وو. ښه مثال یې د مصر الکنانه پېښه وه.

ځینې مسلمانان وایې چې په ټاکنو کې نه ګډون، اسلامي دعوتګران له ټولنې څخه بیلوي...دا سمه نه ده. په ټاکنو کې نه ګډون د انزوا په مانا نه ده، بلکه اسلامي دعوتګران باید ټولنې ته ننوځي او تعامل ورسره وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کې له ټولنې سره په جګړه کې و، خو هېڅ کله یې له کفارو سره قدرت شریک نه کړ. د هغه صلی الله علیه وسلم وینا روښانه کوي، چې په اسلام منګولي ولګوو او له اسلام پرته بل څه ونه منو، هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«وَاللّهِ لَوْ وَضَعُوا الشّمْسَ فِي يَمِينِي، وَالْقَمَرَ فِي يَسَارِي عَلَى أَنْ أَتْرُكَ هَذَا الْأَمْرَ حَتّى يُظْهِرَهُ اللّهُ أَوْ أَهْلِكَ فِيهِ مَا تَرَكْتُهُ»** (سیرت ابن حشام)

**ژباړه:** *قسم په الله تعالی، که هغوی لمر راته په ښي لاس او سپوږمۍ راته په چپ لاس کې راکړي، چې دا کار پرېږدم، خو زه به دا کار (دعوت) تر هغې پورې پرېنږدم چې یا یې الله تعالی بریالی کړي او یا یې زه په لاره کې ووژل شم*

هېڅکله به د قرغیزستان چارواکې یوه کس یا ډلې ته له پروتنیو شرعي شرایطو سره د نوماندۍ اجازه ورنکړي. نو یوازینۍ لاره داده چې په ټاکنو کې ګډون ونه کړو، له حرامو څخه لیري شو. الله سبحانه و تعالی فرمایلي:

**{وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيماً فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ}**[الانعام:153]

***ژباړه:*** *دغه راز د هغه لارښوونه داده چې زما لاره سمه لار ده، نو تاسې په همدې لاره لاړ شئ او په نورو لارو(چې ما منع کړي یاست) مه ځئ، چې تاسو به د الله له لارې څخه(منحرف) او تیت کړي. دا هغه هدایت دی چې الله تعالی درکړی دی، تر څو تاسې پرهېزګار شئ (او له مخالفت څخه یې ډډه وکړئ).*

**حزب التحریر قرغیزستان**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د ربیع الثانی ۸ مه**

**2021 م، د نومبر 13 مه**